# افسوس او ژړا

## پر لوستلو به يي پښیمانه نه شئ

د عباسي خلافت اخرنيو دورو کې داسې وخت راغي چې هره دوهمه ورځ به دارالخلافه بغداد کې په یوه مسله د مذهبي مشرانو تر منځ مناظره وه!



### دعباسیانو په دوره کی (مناظره )

بیا داسې وخت راغي چې په هره مشهوره څلور لاري کې به په یوه ورځ کې بیلې بیلې مناظرې وې، د مناظرو عنوانونه دا ډول وو،

په یو وخت کې د ستنې په سر څومره فرښتې کیناستې شي؟

دوهمه مناظره دا وه چې کارغه حلال دي او که حرام ؟

دریمه مناظره دا وه د مسواک شرعي اندازه یا سایز څومره دي؟

یوې ډلې به ویل چې د یوې لویشتې باید کم نه وي او بلې به ویل چې له لویشتې کمه اندزه هم جایز دي.

دا ډول په مختلفو عنوانونو مناظرې لا روانې وې چې د هلاکو خان په مشرې تاتاري لښکرې د بغداد لارو او کوڅو ته داخلې شوې او هر څه یې ګډوډ او له منځه یوړل ،

د مسواک اندازو حرمت او عدم حرمت والاوو جسدونه لویشت لویشت کړل شول.

د ستنو په سر د فرښتو شمارلو والاوو د کوپړیو څخه منارونه جوړ شول چې بیا شمارل یې ممکن هم نه وو.

د کارغه په غوښې د بحث والاوو مړو اجساد د مردار خورو څناورو او تپوسانو خوراک شو!

او همدغه ډول ورته حالت په عثماني خلافت کې هم بیا ځل تکرار شو!

څه کم دوه سوه کاله دغې فتوي دوام وکړ ...  چې د چاپ په ماشینو د کتابونو چاپ حرام دي،

دوهم : د برق رڼا حرامه ده او د برق په رڼا نه لمونځ قبلیږي نه تلاوت او نه بل خیره عمل،

په نوي نظم ، شکلیاتو او ماډرن اسلحې د فوځ تنظیم د کفارو سره مشابهت دي او دا حرام دي،

په نتیجه کې بل لوري ته د برقي چاپ ماشینونو له برکته علم او د وخت تکنالوژۍ مراجع د اروپا کور کور ته ورسیدي او په ټوله اورپا کې علمي ارتقا دوره پیل شو او مونږ لا په لاسونو کتابونه لیکل ،

په اروپا کې د برق د ایجاد له امله د نوي صنعت او تکنالوژۍ انقلاب رامنځته شو او ټوله اروپا په برق روښانه شوه او مونږه لا هم د لاټینونو رڼاګانو ته ناست وو.



اروپا نوي ماډرن فوځي ریفورم په اساس ورځ تر بلې پیاوړي کیده لیکن په عثماني خلافت کې حاکمان پدې مصروفه ووچې مذهبي طبقي ته قناعت ورکړي چې نوي ریفورم ته جواز ورکړي.

لا ډیر وخت تیر نه وه چې په لمړي نړیواله جګړه کې اسلامي خلافت د انګلستان او فرانسې اتحاد مقابل کې ماتي وخوړه او تر ننه ټوله اسلامي نړي ټوټه ټوټه او په لسګونو حصوو وویشل شوه

نن د هلاکو خان او لمړي نړیوالې جګړې سلګونه کلونه تیر شول لیکن له بده مرغه مسلمانانو له تیر تاریخ څخه هیڅ عبرت نه  واخیست ،

د نن ورځې مسلمان اوس هماغه ډول مناظري په سوشل میډیا ، محفلونو ، جوماتونو او جلسو کې کوي،

مړي اوري او که نه اوري ؟

امام پسې سورت فاتحه لوستل جایز دي که ناجایز ؟

عصري علوم مباح دي که واجب ؟

د ښځو تعلیم جایز دي که ناجایز ؟

او داسې ډیر مسایل دي چې دلیکنې د اوږدوالي له امله ذکر یې پریږم.

هر یو خپل مسلک ، فرقې او هم فکره خلکو ته صرف او صرف د جنت ټکټ ورکوي او دا نور ورته معلول مسلمانان ښکاري ،

د اوسني دور هلاکو خان د مسلمانانو یو یو هیواد نیست او نابود کړ  او لا هم دا سلسله روانه ده.

په تیرو دوه دري لسیزو کې ، افغانستان ، عراق ، سوریه، لیبیا ، یمن ، سوډان ، بوسنیا او فلسطینیانو حالت مو تر سترګو دي ،

زمونږ د ماشومانو ، تور سرو ، ضعیفه میندو ، پلرونو او نورو مسلمانانو د جسدونو څخه منارونه جوړ شول او لا هم یې جوړوې ، یوازې په تیره یو میاشت کې په فلسطین کې د لس هاو زرو ماشومانو او تور سرو په سلګونو زره لیټره معصومه وینه تویه شوه او له جسدونو مناورنه جوړیږي لیکن زه او ته پرته له غندني او ښیراوو بل څه نلرو ،،

دښمن مو اوس هم په نړي کې د برم، دبدبې, شان ، شوکت او سوپر پاور په حیث ژوند کوي لیکن زمونږ وطنونه لوټې لوټې شول، بند بند مات یو او بیا هم په کاذب غرور اخته یو چې مونږ مات کړل،

اوس هم ډیري اسلامي هیوادونه د کفارو خیراتونو ته ناست دي  او بیا دعوي د ازادې کوي.

اوسمهال د امت هره پیغله د وامعتصما چغې وهي لیکن مونږه یوازې اعلامیه خپروو او هر مسلمان هیواد مذهبي طبقه دا فتوا ورکوي چې خپلو هیوادونو مصنوعي سرحدونو وراخوا په مونږ جهاد فرض ندي، اغیار د ویري خپل  یې همتې ته د تیښتې او جواز لار لټوي،

دښمن د خپل اتومي او بیالوژیکي وسلو له امله کولای شي چې ټول هیواد سره د وګړو راته په څو دقیقو کې د ځمکې پر مخ ختم کړي لیکن مونږ لا هم د ساینسي علوم په وجوب قایل نه یو ،

د خپل سرونو پورته اختیار نلرو او دښمن مو سلګونه کلو متر لرې په خوندي او مستریحه کوټو کې د کمپیوټر تر شاه ناست چې مختلف ډولونه کافي او نوشابه په مخ کې ورته پرتې وي او مونږ یو یو د ډرون او لرې ویشتونکې میزایلو په واسطه په نښه کوي او مونږ لا هم د انسانانو پوري بمونه تړو او انفجار ورکوو چې د مجبوریت اخري حد دي.

او بل لوري ته لا هم د سني ، شيعه ، حنفي ، سلفي ، تبليغي ، ديوبندي او داسې نورو ډلو نغمي او زم زمې غږوو.. لا هم پدي لګيا يو چې ږيره يې لنډه ده او که اوږده ، حياتي يې او که مماتي يې ليکن د دښمن مرمې زمونږ تر منځ هيڅ توپير نه کوي او يوازې د مسلمان په نامه زمونږ له سينې تيريږي.

د محمد صلی الله عليه وسلم امتي لورګانې ، ماشومان او مسلمانان د خپل عصمت د پټوني ، د امن امان او ژوند لپاره د امت د ترحم څادر غواړي ليکن د محمد په وطن کې عرب لګيا دي په مليونونو ډالرو د سپو د ښايست نړيوالي مسابقې جوړوي چې ستا سپي ښايسته دي او زما دا بدرنګه!

د الله تعالی په خاطر راځي د بېهوشۍ له حالته راووزئ او پر سد سئ،

**فضل احمد**

**افغان ميديا کلوپ**